# له خبریالانو سره غږېدل / د مرکې په مهال هغه کوم څه دي چې تاسې باید پرې پوه شئ.

خبریالان له نړۍ سره د معلوماتو، راپورونو او خبرونو په شریکولو کې مرسته کوي.
له یوه خبریال سره د مرکې او خبرو کولو پرېکړه ستاسې ده، چې غواړئ وغږیږئ او کنه
مخکې له دې چې تاسو له یوه خبریال سره د هغه د راپور لپاره_مرکه وکړئ، تاسو کولای شئ له دغه خبریال څخه وپوښتئ چې ولې
غواړي له تاسو سره خبرې وکړي او هغه به تاسې ورکړي معلومات څرنګه کاروي.

کله چې یو خبریال له تاسوڅخه د مرکې غوښتنه کوي، هغه باید:

- تاسو ته ووایي چې کومې رسنۍ ته کار کوي
- تاسو ته ووایي چې په کوم خبر / راپور باندې کار کوي
- ستاسو هرې پوښتنې ته ځواب درکړي. که تاسې هره پوښتنه لرئ هغې ته باید ځواب درکړي.
- له تاسو څخه وپوښتي چې ایا غواړئ له هغوی سره خبرې وکړئ.

نو په ډېر دقت ورته فکر وکړئ. که مو پرېکړه وکړه چې له خبریال سره وغږیږئ، نو دا پرېکړه هم وکړئ، چې ستاسې د پوره نوم څومره برخه اونور شخصي معلومات مو په راپور کې په کومه بڼه راشي.

PUBLIC SOURCE .ORG

DEFINE AMERICAN

# تاسو به دا کار له مرکي څخه مخکې کوئ او خبریال ته به وایاست، که تاسو غواړئ:

- چې **"On the record"** پاتې شئ، په دې معنی چې ستاسو نوم به په خبر/ راپور کې ذکر کیږي او ستاسې له قوله به یکې خبرې راځي.
- چې ناپیژانده یا **"Anonymous"** پاتې شئ، په دې معنی چې له تاسو څخه به نقل قول راځي، خو ستاسو نوم به نه ذکر کیږي او تاسو به نه پیژندل کیږئ
- چې په پس منظر **"On background"** کې پاتې شئ، په دې معنی چې معلومات به مو په خبر کې راځي، خو ستاسو له قوله به یوه خبره هم نه ویل کیږي او نه به مو نوم ذکر کیږي
- یا غواړئ چې خبرې مو ټولې **"Off the record"** وي، په دې معنی چې خبریال نشي کولای ستاسو ورکړي معلومات په خبر کې وکاروي او نه مو هم نوم ذکر کړي

خبریال باید ستاسو پرېکړې ته درناوی وکړي، ستاسو پرېکړه ولیکي او یا یې ثبت کړي.

دا پرېکړه هم ستاسو په لاس کې ده چې خبریال کولای شي ستاسو دواړو تر منځ خبرې په غږیزه او یا تصویري بڼه ثبت کړي او که نه. او یا دا چې ستاسو انځور یا ویډیو به اخیستل کیږي اوکه نه.

یادابنت: کېدای شي خبریال ستاسو لخوا ورته ورکړل شوي معلومات هیڅ خپاره نکړي.

ددې لپاره چې خپلې کړې خبرې په راتلونکې کې تایید کړئ، تاسو هم کولای شئ دغه مرکه د ځان لپاره ثبت کړئ.

په پای کې د خبریال د ټیلیفون نمبر او ایمیل ادرس واخلئ، تر څو د اړتیا، پوښتنې، اندېښنې او یا پر خپل حالت کې د بدلون پر مهال، ورسره په اړیکه کې شئ